مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

گل جان صابر ۲۰۲۱/۱۱/۲۲

# سپینږیری او زمری

یو سپین ږیری له خپل زوی سره ځنګل ته په لرګیو پسې ولاړل. هغوی ته ناڅاپه زمری په مخه ورغی. زمری وغرومبېد او ویې ویل:
- دا ده نېکمرغي، دری اونی کېږي چې ما هېڅ هم نه دي خوړلي، اوس به تاسو دواړه وخورم او موړ به شم.
زوی وارخطا شو، رېږدېدو او پلار ته یې وویل:
- پلاره، اوس به څه کوو؟ زمری خو موړ خوري.
پلار ځواب ورکړ:
- زوی جانه، مه وارخطا کېږه، زه اوس هغه د خپلې مخې ورکوم.
زوی پوښتنه وکړه:
- څه وایې، ته سپین ږیری به دا ځواکمن زمری څرنګه له خپلې مخې لیرې کړې؟
سپین ږیري وویل:
- ځواک مهم نه دی، چالاکي ډېر اهمیت لري، عقل کولی شي چې انسان له ډېرو ځواکمنو ځناورو څخه بچ کړي. ته وګوره چې زه اوس څه کوم.
سپین ږیري خپل تبر پورته کړ او د زمري لوري ته ور روان شو او ویې ویل:
- زه څو ځله د زمري په ښکار پسې را وتلی خو هر ځل بېرته تش لاس کور ته تللی یم. اوس دا دي زمری پخپله ما ته راغی. زه به اوس تا توټې، توټې کړم او کور ته به د یوسم، ستا غوښه زموږ لپاره دری ورځې بس ده.
زمري وویل:
- تا دومره ځواک له کومه کړ چې ما ووژنې؟
- ته چې زما په ځواک باور نه لرې نو راځه چې زور سره و آزمویو. کمزوری به د ځواکمن تابع وي.
زمري د سپین ږیري له دې وړاندیز سره موافقه وکړه. سپین ږیري د ځمکې څخه ډبره را پورته کړه، زمري ته یې ور واچوله او ویې ویل:
- که چېرې ته هم زما په څېر ځواکمن وې نو دا ډبره تر هغو کېکاږه چې شیره یې را تویې شي.
زمري ډبره په خپلو پنجو داسې کېکاږله چې توټې، توټې شوه خو شیره ترې را تویې نه شوه.
سپین ږیري په پټه له خپلې خورجین څخه هګۍ را و ایستله، ډبره یې را پورته کړه او له هګۍ سره یې یو ځای په لاس کې ټینګه کړه، د ګوتو له منځ څخه یې د هګۍ زیړ او سپین را و څڅېدل او زمري ته یې وویل:
- و دې لیدل، ما د ډبرې څخه شیره را وایستله.
زمری د سپین ږیري ځواک ته حیران شو او له وېرې د هغه تابع شو. له همدې ورځې وروسته سپین ږیری په زمري سپور ګرزېده.
یوه ورځ سپین ږیري په ځنګل کې لرګي پرېکول. هغه چې هر څومره خواري وکړه ویې نشوه کړی چې یوه وړه ونه پرېکړي. سپین ږیری ډېر ستړی شو او یوې خوا ته کېناست چې لږ دمه وکړي. زمری هغې ونې ته ورغی، له بېخه یې را و ایستله او په حیرانتیا یې سپین ږیري ته وویل:
- سپین ږیریه، تا خو ویل چې تر ما ځواکمن یې نو بیا د ولې دا کوچنۍ ونه پرې نشوه کړی؟
سپین ږیری پوه شو چې زمری د ده په تېر ایستلو پوهېدلی نو ځکه وارخطا نه شو او ویې ویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

- ای زمریه، ما چالاکي وکړه تر څو پوه شم چي ته دا ونه را ایستلی شي او که نه. دا څو ورځي کېږي چي زموږ د خوړو زېرمه پای ته رسېدلي، زه غواړم چي بیا د زمریانو په ښکار پسي ولاړ شم. زه فکر کوم چي درې، څلور زمریان به بس وي چي ښکار یي کړم. زه چي کله زمریان ښکار کړم هلته به ته زما له څواکه خبر شي.
زمری له وېرې ولړزېد او فکر یي وکړ چي که چېرې سپین ږیری ښکار و نکړي نو دی به وخوري. تر اوسه پوري چي جوړ او روغ دی نو ښه به دا وي چي وتښتي.
زمری د شپې وتښتېد او د ځنګل په یوه شېله کي پټ شو. د هغه مخ ته یو ګیدړ په منډو تېر شو. زمري له ګیدړ څخه پوښتنه وکړه:
- ګیدړ وروره، ولي منډې وهې؟ سپین ږیري خو به نه وي پسي را اخیستی؟
ګیدړ په حیرانتیا پوښتنه وکړه:
- کوم سپین ږیري؟
زمري ګیدړ ته کیسه وکړه چي سپین ږیري څرنګه د ډبرې څخه شیره وایستله، هغه څرنګه د زمریانو ښکار کوي او څرنګه د زمري خاوند شو. ګیدړ وخندل او ویې ویل:
- اخ چي ته څومره کم عقل یې، سپین ږیري ته تېر ایستلی یې، هغه دومره څواک له کومه کړ. ته چي یو ځل و غړومبېږې د سپین ږیري زړه له وېرې چوي. راځه چي سپین ږیري ته ورشو او هغه ووژنو. زه به ستا پاتي شوني وخورم، زما لپاره هغه هم بس دي.
زمری له ګیدړ سره روان شو. سپین ږیري له لیرې څخه زمری او ګیدړ ولیدل، پوه شو چي ګیدړ زمري ته هر څه روښانه کړي نو که دا ځل هم څه فکر و نکړي له بدمرغی څخه ځان نه شي ژغورلی. سپین ږیري له لیرې څخه په زمري او ګیدړ غږ وکړ:
- ای بې انصافه ګیدړه، ما تا ته ویلي و چي ښه چاغ زمری را ولېږه خو تا بیا هم ډنګر راوست. پروا نه لري، زه به دا زمری توټي، توټي کړم او وبه یي خورم خو که تا بل ځل داسي کار وکړ پوستکی به د وباسم.
زمري چي د سپین ږیري ګواښونه واورېدل نو فکر یي وکړ چي ګیدړ تېر ایست او په بلا یي اخته کړ. زمری په منډه وتښتېد.
سپین ږیري خپل زوی ته وویل:
- زوی جانه، تا ولیدل چي یوازې څواک بسنه نه کوي. عقل او چالاکي ډېر اهمیت لري. که چېرې دا دواړه ولري نو له هېڅ دښمن څخه مه وېرېږه.

د آذربایجان د خلکو کیسه
ژباړونکی: ګل جان صابر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ